# کودتا یا سیاسي فاجعه

حیات پیاوړی



د افغانستان په وروستي څلوېښت کلن تاریخ کښي د څو کودتاګانو را منځته کیدل او د هغو ناوړه پایلي

فاجعه د انګلیسي ژبې د (Disaster) د کلیمي سره برابره او د ناوړې پیښي او مصیبت په معنی ده. فاجعه کیدای شي طبیعي او یا غیری طبیعی وي. طبیعی لکه زلزله، ړلی د غر ښویدل، سیلاب، وچکالي او داسي نور. غیر طبیعي د انسانانو په لاس رامنځ ته کیدونکي پیښي دي. لکه ایکولوژیکي او چاپیریالي ستونزې یعني (د ځنګلونو بې رحمانه وهل، هوا ته د مضره ګازونو خپرول، د چاپیریال لکه د اوبو، هوا او ځمکي) ککړول او د هغوی ناوړه پایلي چي د ټولنیزو، سیاسي، اقتصادي او ډول ډول سترو انساني ناورینونو د رامنځته کیدو سبب ګرځي. زه په دې بحث کښي د طبیعي پیښو په اړه نه بلکه د انسان په لاس آګاهانه، پلان او رامنځته شوې سیاسي پیښي او فاجعي په اړه چي کودتا بلل کیږي او نه جبران کیدونکی سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې ناوړه پایلي لري، شته معلومات شریکوم.

د کودتا کلیمه د فرانسوي ژبې د (*coup d'état*) د کلیمي څخه راخستل شوې چي په متغیر ډول په پښتو او دري ژبو کښي استعمالیږي، د انسان په لاس جوړه شوې سیاسي فاجعه ګڼل کیږي. د کودتا اصلي تعریفونه په دایرة المعارف کښي په لاندي ډول شوي دي:

"په سیاست کښي یو نا څاپي، قاطع او چټک عمل، چي په ځانګړي ډول د هغه د عملي کولو لپاره د غیر قانوني لارې یا زور څخه کار اخستل کیږي".

داسي هم تعریف شوې:

"د یو قاطع او چټک خوځښت په نتیجه کښي دولتي واک تر لاسه کول دي چي دا کار د یو سیاسي یا نظامي ډلي له لورې تر سره کیږي. د انقلاب (پاڅون یا بدلون) برخلاف، کودتا د ولسي پاڅون او ګډون پرته تر سره کیږي. زیاتره وختونه کودتا ډوله خوځښتونه، د سیاسیونو یا نظامي جنرالانو د ځینو ګریو له لورې تر سره کیږي، د چارو تصدی یا حاکم چارواکی ګرفتاروي، ملي رادیو یا تلویزیون اشغالوي، او د خپل ځان د واکدارۍ اعلان کوي".

زمونږ په ټولنه کښي هر څوک د خپل باور او سلیقي سره سم دغو ورځو او پیښو ته تعریف وړاندي کوي او یوې ته سمه او بلي ته ناسمه وایي. په هر حال، طرحي او پیښي کیدای شي سمي یا ناسمي وي خو اوسنی زمانه کښي خلک قضاوت د پیښو په پایلو کوي نه د طرحو په بڼه او تفسیر. دا چي کوم بهیر ولس او ټولني ته ګټه رسولي یا تاوان، پر هماغه بنسټ سم قضاوت کیدای شي.

زمونږ هیواد په وروستي څه د پاسه څلوېښت کلن تاریخ کښي د څو کرغېړنو کودتا ګانو شاهد وه. چي زما په باور د ټولو پایلي د ولس لپاره په ټولیزه توګه د بدمرغیو او ویجاړویو پرته بل هیڅ په ارمغان نه دي راوړي. د دې پیښو منفي پایلي د هرهیوادوال د سترګو پر وړاندي پرتي، ټول د هغوی ژوندي شاهدان او د شمیرلو وړ نه دي. د ثور د میاشتي ۷ مه او ۸ مه زمونږ د هیواد د تاریخ دوه داسي توري کودتایي ورځي دي چي په ښه سترګه ورته نه کتل کیږي. تر دې څنګه نورې داسي پیښي هم رامنځته شوي چي لاندي ور ته اشاره شوې ده.
د دوه لمړی کودتاګانو له جملي څخه یوه د سرطان او بله د ثور په میاشت کښي تر سره شوې ده. زه د سرطان کودتا او هغه نورې څکه ور سره ملګرې کوم چي یو خو په ټولیزه توګه کودتایي طرحه او عمل د اجتماعي او سیاسی پلوه دواړه محکوم دي. بل دا چي

په ځانګړې توګه د سرطان کودتا له لارې زمونږ په هیواد کښې د بدمرغیو زنی (تخم) کرل شوی او د راتلونکو کودتاګانو او نورو فجایعو او بدمرغیو بنسټ کیښودل شوی او لاره ورته هواره شوې ده. په بنسټیزه توګه د سرطان کودتا د فاجعې پیل، د ثور کودتا د فاجعې بل پړاو، د جدي ۶ مه د ببرک کارمل په ژبه د فاجعې پرمختیایي پړاو د ثور اتم (له بده مرغه) د جهاد بریالیتوب نه بلکه د دې تیرو پړاوونو د لړۍ یوه کړۍ ده (ځکه دې پیښې هم د نورو په څیر نورو بدمرغیو ته لاره هواره کړې). زه باور لرم چې د جهاد فریضه د ولس په قربانیو تر سره شوه او د ولس مجاهدو او مبارزو بچیانو په دې لار کښې د خدای د رضا د حصول او خپل ولس او هیواد د ژغورنې په خاطر ډول ډول او ډیرې بې حسابه قربانۍ ورکړې چې د هیریدو وړ نه دي خو په جهاد سوداګرې د دې سبب شوه چې واک یو څو شبکه یی کړیو ته په لاس ور شي (د جهاد ثمره تر پښو لاندې شي)، د چور او تالان بازار ګرم او په ټولیزه توګه د هیواد د بنسټونو د رنګولو پرمختیایي او پای نه موندونکی پړاو پیل شي.

دا فجایع په وار وار په لاندې توګه یو په بل پسې را منځته شوي دي:

**لمړی د سرطان کودتا:**

د ۱۳۴۳ اساسی قانون په څلورویشتمه ماده کښې د لاندې مادې تسجیل د دې باعث شو چې اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د کورنۍ له لوري سردار داود خان په سیاسي واک کښې د برخې څخه د تل لپاره محروم و ساتل شي. په دې ماده کښې داسې راغلي دي:

**څلورویشتمه ماده:** د پاچا ځوی او لور او ورور او خور او د هغوی ښځې، ځامن او لورګاني، کاکا او د هغه زامن د شاهي کورنۍ غړي بلل کیږي.

د همدې مادې په بله برخه کښې راغلي دي:

د شاهي کورنۍ غړي په سیاسي ګوندونو کښې ګډون نه کوي او لاندې دندې نه تر سره کوي؛
۱- لمړی وزارت (صدراعظمي) یا بل وزارت.
۲- د شورا غړیتوب.
۳- د ستري محکمې غړیتوب.
د شاهي کورنۍ غړی به د خپل ټول ژوند لپاره تل خپل حیثیت د شاهي کورنۍ د غړي په توګه ساتي.

په اساسي قانون کښې د همدې مادې تسجیل داود خان د ځان په خلاف عمل و ګاڼه، ځکه چې همدې مادې د سردار داود خان د بیا صدراعظم جوړیدو لاره بند کړه. نو داود خان هم د غبرګون په بڼه د سیاسي واک د ترلاسه کولو لپاره د نورو لارو چارو په لټه کښې شو تر څو وکولای شي چې له یوې خوا د خپل تره ځوی څخه سیاسي غچ واخلي او له بله پلوه سیاسي واک تر لاسه کړي. نو داودخان د دې مقصد لپاره د افغانستان د خلک دیموکراتیک ګوند سره د یو ګډ پلان له مخې د ۱۳۵۲ کال د سرطان د میاشتې د ۲۶ نیټې کودتا تر سره کړه. ځینې خلک د افغانستان د بد مرغیو پیل د آل یحیې د کورنۍ له ترېګنیو سره تړي. د مرحوم محمد ظاهر شاه او د مرحوم محمد داود خان د ذهن فکري بیلوالی د هغوی د ترېګنې په بڼه را څرګنده شو چې ترخې پایلې یې ملت زغمي.

بل عامل یې د افغانستان د شاهي نظام د وروستي صدراعظم ارواښاد محمد موسی شفیق د شوروی اتحاد څخه د سیاسي فاصلې زیاتیدو او په ځانګړې توګه اسلامي او یا هم غربي نړۍ ته نژدې کیدل وو. دې موضوع پخوانی شوروي اتحاد په اندیښنه کښې غورځولی وه او د هر مناسب اقدام تر سره کولو لپاره یې تیاری نیوه، له دې فرصت څخه ګټه تر لاسه کړه او په غیر مستقیمه توګه یې په پروسه کښې د افغانستان خلک دیموکراتیک ګوند د ګډون له لارې داود خان سره لاس یو او کودتا یې تر سره کړه.

د سرطان د کودتا تر ټولو ستره پایله دا شوه چې په هیواد کښې یې کودتایي حرکتونو ته لاره پرانیزي. سره له دې چې داود خان یو ملي سړی ګڼل کیده تر څنګه یې هغه یو ډیر خودخواه او دیکتاتور سړی هم وه چې هغه یې د هیواد د ملي عناصرو څخه په انزوا کښې وساته. د ملت څخه د داود خان د لیرې ساتلو په کار کښې له شک پرته د افغانستان د خلک دیموکراتیک ګوند (پرچم ښاخ) ټاکونکی نقش درلود. د افغانستان د خلک دیموکراتیک ګوند د خپل ضد دیموکراتیک خصلت له مخې او د روسي اوږد مهالي ستراتیژۍ د پلي کیدو لپاره له دې فرصت څخه ګټه واخسته او د خپلو سیاسي سیالانو د ټکولو او ځپلو په لور یې مخه کړه. هغوی لمړی ګام د هیواد د یو ملي او وطنپال شخصیت، د هیواد یو پخواني صدراعظم او د یو سیاسی ګوند یعني مترقي دموکرات (مساوات) د مشر شهید میوندوال په وژلو تر سره کړ. لمړی یې هغه د خپلو یو شمیر ملګرو سره د کودتا په تور بندي او بیا یې په وحشیانه توګه و واژه.

په دې اړه د کابل رادیو د ۱۳۵۲ کال د سنبلې په ۳۱ نیټه خپله ماښمنۍ خپرونه کښې داسې اعلان وکړ چې:

" یو شمیر خاینو او مرتجعو کړیو چې د بهرنیانو په ملاتړ یې غوښتل جمهوري نظام له منځه یوسي، د اسنادو او شواهد سره لاس په لاس و نیول شول. چې عبارت دي له: میوندوال، ډګرجنرال عبدالرزاق پخوانی هوایی قوماندان، تورن جنرال خان محمد چې په مرستیال مشهور وه"

په دې اړه د استاد کاظم بیمار د مقالې یوه برخه چې " د هیواد نا متو زوی شهید محمد ها شم میوندوال" تر عنوان لاندې لیکلې یوه برخه را نقلوو:

"په ۱۹۷۳ میلادي (۱۳۵۲) لمریزکال کښې کله چې سردار داود خان کودتا وکړه، نو د داود خان پرچمي ملګرو، شهید میوندوال د بلې کودتا په تور زندان ته وا چاوه. د پر چمیانو او سردار محمد داود د ملګرو په واسطه په زندان کې په بې رحمانه ډول تر شکنجو لاندې شهید شو، او د افغانستان راډیو له لارې اعلان شو چې مرحوم میوندوال په خپله نکټایي ځان وژنه کړیده. دغه خبر د واقعیت څخه لیرې یو خبر و، ځکه چې شهید میوندوال یو کلک مسلمان او یو لوې ملي سیاست مدار شخصیت و، هغه هیڅکله داسې خام او بې ثمره کار نه کاوه، ویل کیږي چې دی په وهلو او ټکولو وژل شوی وه.

د مقالې لیکوال زیاتوي:

"د شهید میوندوال د تحقیقاتو موظف او مسئول صمد ازهر، د پرچم د ډلې غړی و. ځینې لیکونکې وایي چې دده په شهادت کې صمد ازهر او د پر چم ډلې لوې لاس درلود. خو صمد ازهر په خپلو لیکنو کې دا ادعا ردوي او وایي چې ده دا کار نه دی کړی، مګر دی د دې کار بل مسئول هم نه په ګوته کوي."شهید میوندوال د پرچمیانو د شومو اغراضو قرباني شو (د شهید مرحوم میوندوال روح دې خوشاله وی)، ځکه دوی د ده سیاسي فکر څخه ډاریدل، او داسې فکر یې کاوه چې په سیاسي ډګر کې ده ته ماتې ورکول اسان کار نه دی."

دا چې چا و واژه هغه جلا بحث ته اړتیا لري خو په هر حال د دې ناوړه لګول شوي تور له امله د ټولو نیول شوو کسانو شمیر ۲۳ ته رسیده چې ډیری یې پخواني دولتي صاحب منصبان، لوړ رتبه چارواکي، دیني علماء او ځینې سوداګر وو چې له هغې ډلې څخه دا کسان اعدام شول. خان محمد خان مرستیال، عارف شینواری د ریکشا سوداګر، ډګروال (ماما) زرغون شاه شینواری، ډګروال سیدامیر او مولوی سیف الرحمن.

بله ستره پیښه بیا هم د داود خان د کودتایي ملګرو د خپلو سیاسي سیالانو د بندي کولو په لړ کښې د اسلامي نهضت د غړو پسې راخستل وو. د دایرةالمعارف په حواله داسې یادونه شوي چې:

"د ۱۳۵۲ کال له کودتا وروسته د افغانستان د اسلامی نهضت غړي او پلویان د رژیم او په ځانګړي توګه د خلک ډیموکراتیک ګوند د پرچم د ښاخ تر سخت فشار لاندې راغلل. د اردو هغه افسران چې د داود خان سره یې په کودتا کښې مرسته کړې وه د افغانستان د کمونستي ګوندونو سره تړاو درلود. دغو دواړو حرکتونو د یو بل سره سخته سیالي درلوده او په ښوونځیو، پوهنتونونو، علمي مرکزونو او دولتي دوایرو کښې یې د یو بل سره هر ډول نخښتې کړې وې. د واک له تر لاسه کولو وروسته، په ځانګړي توګه د هغه مهال د کورنیو چارو وزیر چې د خلک د ګوند غړی وه په پراخه کچه د افغانستان په بیلا بیلو ښارونو کښې د اسلام پلو ډلو غړو په نیولو چې د هغوی سیالان ګڼل کیدل، پیل وکړ. په ۱۳۵۳ کال کښې د استاد رباني په ګډون د دې نهضت نور غړي چې د داود خان د حکومت تر تعقیب لاندې وو د افغانستان څخه بهر او پاکستان ته په کډه شول او په هغه ځای کښې اسلامي ګوندونو او د ذالفقارعلي بوټو حکومت چې د افغانستان له دولت سره یې د پښتونستان د شخړې پر سر سرې اړیکې درلودې د هغوي هر کلی وکړ او د اسلامي نهضت د کیډوالو په مسلح کولو یې پیل وکړ، تر څو هغوی د داود خان د حکومت چپه کولو ته تیار کړي".

په دې اړه فقید جنرال نصیرالله بابر چې پاکستان د پیپل پارټی غړی، د ذالفقارعلي بوټو صدراعظمی پر مهال د پاکستان د اوسنی خیبر پښتونخوا آیالت والي او بینظیر بوټو د صدارت پر مهال د دغه هیواد داخله وزیر وه، یو پاکستاني تاریخ لیکونکي فرهاد علي خاور ته داسې وایي:

"د یوې اوږدې ساه اخستلو نه پس هغه و ویل چې کله کله د هیواد د ګټو د لپاره هغه ډیر څه کول غواړي. کله چې ذالفقارعلي بوټو صدراعظم وه نو هغه یوه ورځ ما ته وویل چې د ډیورنډ د کرښې د (۱۰۰) کلن تړون وخت پوره کیدونکی دی، نو ته داسې چل وکړه چې په افغانستان کښې اړی ګړی پیدا شي. ما د افغانستان د هغه وخت یو څو ځوانان چې پکښې احمد شاه مسعود، ګلبدین حکمتیار، برهان الدین رباني اونور ځوانان شامل وو، د پیښور بالاحصار قلعه ته د ملاقات لپاره را وبلل، دوی ته مې نغدې پیسې او سرپوښ ټوپک ورکړل او دغه شان د افغانستان دولت پر ضد عملیات پیل شول. دغې لړی دوام ولرلو او افغانستان کښې مونږ د خپلې توقع نه زیاته کامیابی تر لاسه کړې".

دا د افغانستان پر وړاندې د پردي واکي جهاد عملي پیل ګڼلای شو. د آی ایس آی یو بل فقید جنرال اختر عبدالرحمن، چي د جنرال ضیاء الحق سره یو ځای د هغوی د طیاري د سقوط پر مهال له منځه ولاړ د ثور د کودتا وروسته او د جهاد د منظم پیل وروسته داسي وایي: **"کابل باید اور واخلي".** وروسته بیا کابل ربښتیا هم د ځینو جهادي تنظیمونو تر منځ د داخلي جګړو پر مهال د اور په لمبو کښي داسي وسوځېد چي د کابل هست بود یې ړنګ او لږ تر لږه (۶۵) زره کابل ښاریان یې شهیدان کړل او ډیری شمیر یې د خپلو کورنو پرېښودلو ته اړ کړل.

سره له دې چي د خلک ډیموکراتیک ګوند ځیني غړي د ثور د اومي د کودتایي رژیم په وړاندي پاڅونونه د ارتجاع او غربي امپریالستي نړۍ پلانونه بولي خو زه له دې خبرې سره ځکه سل په سلو کښي توافق نه لرم چي پاکستان ته په کډه شوو خلکو د ۱۳۵۴ کال د سرطان په میاشت کښي په ننګرهار، کنړ، لغمان، پکتیا او د هغه وخت پنجشیر ولسوالی کښي خپل زور و آزمایي خو یو شمیر ملګري بندیان، ځیني مړه او ځیني یې بیرته پاکستان ته په شا تګ ته اړ شول. (په دې اړه د لا زیاتو معلوماتو تر لاسه کولو لپاره "بمناسبت چهارمین سالروز شهادت احمد شاه مسعود قهرمان ملي" مقالي ته مراجعه وکړئ). خو کله چي د ثور کودتا را منځته شوه نو بیا د افغانستان په خلاف په سنګر کښي ناستو مخالفینو ته ښه فرصت او وړیا لښکر (د دولت د ناسم او وحشیانه سلوک او چلند په پایله کښي د کډوالو د لړۍ د پیل کیدو له لارې) په لاس ورغي چي د افغانستان پر خلاف تري کار واخلي. د مخه فرار شوي ټول هغه خلک وه چي په سیاسي او نظامي لحاظ و روزل شول، اقتصادي او لوژستیکي ملاتړ یې وشو او د هغوی څخه د ثور د کودتا وروسته په تمام عیار ډول جهادي مشران جوړ شول.

پر همدې بنسټ ویلی شو چي د هغه بل لوري څخه عملي بریالی لوبه له همدې ځایه پیل شوه او د ثور د کودتا تر سره کیدو وروسته ور ته د پرمختګ ښه فرصت په لاس ورغي او له همدې امله د دې ویجاړونکي او تباه کونکي لوبې بیلا بیل پړاوونه او لړۍ لا تر اوسه دوام لري.

**د ثور د اومي کودتا:**

د مخه هم دې ټکي ته اشاره و شوه چي د سرطان کودتا نورو کودتا ګانو ته لاره هواره کړه. خو دا کودتا کله او څنګه پیل شوه. د موضوع د لا روښانتیا لپاره د افغانستان د خلک ډیموکراتیک ګوند غړي فقیر محمد ودان (د افغانستان د خلک ډیموکراتیک او بیا وروسته د وطن ګوند غړي) د "یادي از استاد خیبر" تر عنوان لاندې مقالي یوه برخه را اخلو:

"محمد داوود د خپل طرز فکر له مخي د خپلي ولس مشرۍ په وروستیو کلونو کښي غوښتل چي په شوروي اتحاد باندې د افغانستان اقتصادي او نظامي ځو کلني یو اړخیزې تګلاري او اتکاء ته د پای ټکی کیږدي او د یو سیاسي خوځښت په پایله کښي د پاکستان او ایران سره سیاسي اختلافات حل او د دې هیوادونو او اسلامي او غربي نړۍ سره پراخه اقتصادي اړیکي تامین او ټینګي کړي او د هغوی مالي، تخنیکي او فني پورونه او نوري مرستي تر لاسه کړي. د دې اړیکو پراختیا په تدریج او وخت په تیریدو سره د کابل او مسکو تر منځ دوستانه اړیکي اغیزمني کړې او د بې باورۍ سبب شوې."

"مسکو ته د محمد داوود ۱۹۷۷ د اپریل د میاشتي سفر او د لیونید برژنف د شوروی اتحاد د هغه مهال د مشر سره د هغه لفظی شخړه، د محمد داود او شوروي مشرتابه تر منځ اختلاف اوج ته ورساوه، چي هیڅ امکان یې نه درلود چي د افغانستان د خلک ډیموکراتیک ګوند په سیاستونو کښي یې انعکاس نه وای پیدا کړی".

د بی. بی.سی رادیو د برنامو لړۍ «افغانستان په شلمه پیړۍ کښي» دې پایلي ته رسیدلي چي:

"ولسمشر داود خان عربي شتمنو هیوادونو لکه لیبیا، کویټ، سعودي عربستان او مصر همدا ډول یوګوسلاویا، هند او پاکستان ته د خپلو بې سارو سفرونو له لارې د نوو سیاسي متحدینو او د مرستو په لټه کښي وه. د فرید احمد مزدک په وینا دې کوښښونو بالاخره "... مسکو دې ته اړ کړ چي د ټولو لارو چاراوو امکاناتو څخه په کار اخستنه د داود خان رژیم د سقوط لپاره ګام پورته کړي". د دې پایلي تر لاسه کولو وروسته، د فرید احمد مزدک غړې چي د افغانستان د خلک ډیموکراتیک ګوند د سیاسي دفتر غړی او بیا وروسته د وطن ګوند غړی دی، خبري خپروي چي وایي: "د مسکو له نظره د محمد داود کوښښونه د هغې سنتي موازنې د ماتولو لپاره وه چي په افغانستان کښي د امریکا او غربي اروپا او شوروي د سیالیو په نتیجه کښي رامنځته شوی وه. او د شورویانو له انده په اصطلاح د دغې "موازنې" ماتول هغه څه وو چي مسکو نه غوښتل. کله چي شوروی د داود خان له اړخه د یو ګواښ احساس وکړ، د ټولو هغو امکاناتو په کار اچولو چي په لاس کښي یې لرل، کوښښ وکړ د دغو تمایلاتو او حرکت مخه ونیسي. په حقیقت کښي د داودخان په وړاندې د افغانستان د خلک ډیموکراتیک ګوند د سیاست بدلون ۱۹۷۶ ـ ۱۹۷۵ کال څرګند شو، دا د هم هاغو تغیراتو انعکاس وه چي د داود خان پر وړاندې د کرملین په سیاستونو کښي را منځته شوي وو."

د ثور کودتا ته زميني برابريدلو په اړه فقير محمد ودان د دوه مهمو عواملو يادونه کوي: او د دوه مراجعو له لورې د استـاد مير اکبر خيبر د ترور احتمالي سازماندهی او تر سره کيدل داسي بيانوي:

۱ـ د هغه مهال د رژيم په دننه کښي د افغانستان د خلک ډيموکراتيک ګوند په وړاندې د هغو محافضه کارو عناصرو شتون چي داود خان تري خبر نه وه.
۲ـ د شوروی د ګټو ساتونکي بنسټونه او په افغانستان کښي د هغوی سره افغاني تړلي څهرې

ځيني نور ليکوالان د ببرک کارمل د بيوګرافی د تشريح پر مهال ليکي چي هغه د افغانستان د خلک ډيموکراتيک ګوند د بنسټ ايښودني د ورځي را په دي خوا د ګوند مشرۍ ډير ليواله وه. نو کله چي د داود خان د رژيم په وروستيو کښي د افغانستان د خلک ډيموکراتيک ګوند د دواړو څانګو (خلق او پرچم) په يو ځای کيدو باندې کار کيده نو د وحدت په صورت کښي بايد خيبر د اصلي مشر په توګه سر را پورته کاوه، کوم کار چي د ببرک کارمل نه خوښيده نو ځکه خيبر د کارمل له لورې و وژّل شو.

په هر حال، د مير اکبر خيبر ترور او کودتا ته بهانه جوړه او زمينه برابره کړه. د جنازې په مراسمو کښي د ګډونوالو چي ټول د افغانستان د خلک ډيموکراتيک ګوند غړي وو، پارونکي بيانونه او شعارونه ورکړل، داود خان د احتياطي اقداماتو په لړ کښي د دي ګوند يو شمير غړي بنديان کړل. د ثور د کودتا تر سره کونکو او پلويانو د خولي نقل قول دی چي وايي ګوند فيصله کړې وه که په ګوندي ملګرو حمله وشي دوی به د خپل ګوند د غړو په دفاع را پورته کيږي. همداسي و شول کله چي د داود خان د ولسمشرۍ په دوره کښي د خلک د ډيموکراتيک ګوند غړي بنديان کړل نو د ګوند نور غړي چي له پخوا يې په ملي اردو کښي نفوذ او شتون درلود او د داسي يو مناسب فرصت په انتظار ناست وو د حفيظ الله امين په مشرې په کودتا لاس پورې کړ، او د خپلو غړو پواسطه يې د ځان ژغورني او سياسی واک د ترلاسه کولو، او د بله پلوه خپلو ټولو سياسي مخالفينو اوعام ولس د ځپلو لپاره کودتا تر سره کړه. دا داسي يو کودتا وه چي عام ولس خو لا پر ځای پريږده، حتی ځيني ګوندي غړي هم تري خبر نه وو. ځيني کړی په دې باور دي چي د کودتا په جريان کښي په ارګ باندې روسي طيارو د کودتاچيانو په ملاتړ بمباري کړې ده. د دي ليکني په وروستيو پړاو کښي را ته زما يو دوست چي هغه مهال يې په بګرام هوايي ډګر کښي دنده درلوده داسي و ويل: د ثور مياشتي د مخه يعني لا د حمل په مياشت کښي ۲۰ روسي نوې ماډل طيارې افغانستان د سپارلو تر نامه لاندې د شلو پيلوټانو سره يو ځای راغلي وې. د کودتا په ورځ محل چنار (د افغانستان د هوايي او هوايي مدافع قواو د مرکز) کښي د هوايي قوايو قومانده د روسي سفير پوزانوف، تره کی او کارمل چي هلته د سيد محمد ګلابزوی (د هوايي ځواکون د مخابرې خورد ظابط) او اسدالله سروری په واسطه دلته راوړل شوي وه، او د کودتا په ورځ يې د دغو طيارو چي په ارګ يې مستقيما بمباري کوله، قومانده په لاس کښي لرله. ويل کيږي چي په دغو عملياتو کښي يوازې يو افغاني پيلوټ چي غوث الدين نوميده او په ګاګارين مشهور وه ، ونډه درلوده او بس.

که د خيبر د مړيني پيښه نه وای را منځته شوی بيا هم کودتا کيدونکي وه ځکه د نور محمد تره کي په وينا دوی د اسد يعنی زمري په مياشت کښي د کودتا پلان درلود. دوی غوښتل چي د دوی انقلاب بايد په اصطلاح د زمري انقلاب په نامه ياد شي (په داسي حال کښي چي رښتوني ولسي انقلاب لپاره څوک دقيق وخت نه شي ټاکلی).

**د ثور د کودتا ناوړه پايلي:**

د ۱۹۷۸ ميلادي کال د اپريل په ۲۷ (د ۱۳۵۷ کال د ثور د مياشتي په اومه نېټه) د ثور غوبل په افغانستان کي پيل شو، چي د افغان ولس تلپاتي بدمرغي هم ورسره مله شوه. د کودتا ټول پړاوونه په وژنه سره پيل، داوم او پای ومونده. د کودتا مشرانو د خپل ضد ډيموکراتيک خصلت له مخي، د عقدو پر بنسټ او د افغاني ټولني د سياسي، ټولنيز او فرهنګي حالت څخه د ناخبرۍ له امله ډيرې ضد ډيموکراتيک کړني تر سره کړې. د انقلاب رهبر (د شرق نابغه) نور محمد ترکي په هيواد کښي د ټولو پخوانيو شتو سياسي ګوندونو د شتون څخه په ډيره سپين سترګی چورلټ انکار وکړ او خپل ګوند يې په ټول هيواد کښي يوازينی فعال سياسي ګوند وباله او د هيواد په سياست کښي يې د هغه د فعال شتون يادونه وکړه. ديکتاتورانه اراده او عمل له همدې ځايه پيل شو. خو د دې تر څنګ يې بيا په غير مستقيم او غير آګاهانه توګه د سياسي ګوندونو په شتون اعتراف کاوه او په مختلفو لکه ښي او کيڼ افراطي، لوړتيا غوښتونکی نشنليست، اخوانی، اشرار د ارتجاع او امپرياليزم د نوکرانو په نومونو يې د شرعي او مدني محکمي د حکم پرته د نورو ګوندونو د غړو د بندي کولو، بې رحمانه توګه ډول ډول شکنجه کولو او وژلو لاس پورې کړ. د ډيرو غريبو او بي وزله خلکو په اولادنو يې د فيوډال او بورژوا د زامنو نومونه کيښودل. د ثور د کودتا د معرکي په اصطلاح "اعلی سر قوماندان" حفيظ الله امين د خپلو ګوندي غړو په يو غونډه چي د کابل پولی تخنيک کښي جوړه شوې وه وويل چي "که با ما نيست از ما نيست" څوک چي له مونږ سره نه وي هغه زمونږ او د انقلاب دښمن دي، و بي پيژنی او و بي ځپئ! (دا خبره د هغه وخت د کابل پوهنتون د پښتو څانګي يو محصل آصف بهاند چي په دغه غونډه کښي يې ګډون کړی وه، کړې وه). د رژيم مشرانو د خپلو بي وخته طرحو او ناوړه کړنو په پايله کښي ولس د ځان پر وړاندې را وپاراوه او ولس چي په تنګ شو نو په جنګ شو او د هيواد په هره برخه کښي ولسي پاڅونونه پيل شول. په ډير لږ وخت کښي د تره کي دولت د ولسونو په محاصره کښي راغی. کودتاچيان او د هغوی بهرنی ملاتړی

سخت وار خطا شول (په دې منځ کښې د وفادار شاګرد حفيظ الله امين له خوا د خپل استاد تره کي په خوله بالښت کېښودل شو او د چارو واګي يې په خپل لاس کښې ونيولې، چې د موضوع د نه اوږدولو او لنډون په خاطر په هغه بحث نه کوو).

پورته يادو شوو پېښو د ۱۳۵۸ لمريز کال جدی د شپږم يا د شوروي اتحاد مستقيم تيري ته لاره هواره او بهانه جوړه کړه. د يوه مرموز حرکت په پايله کښې د هېواد برحال ولس مشر د شوروي ځواکونو له خوا و وژل شو. ببرک کارمل يعنې هغه ولسمشر چې د شوروي ځواکونو په مرسته او ټانکونو سپور افغانستان ته راوړل او د واک په ګدۍ کښېنولی شو (ما په خپله په هماغه ماښام د ببرک کارمل غږ لمړی ځل د يو بهرني راديو يعنې دوشنبه راديو څخه واورېد، خو نورې رسنۍ وايي چې لمړی د ببرک کارمل غږ د تاشکند له راديو څخه خپور شو چې د امين د دولت د سقوط او د هغه پر وړاندې د پاڅون خبرې يې کولې). د واک پر ګدۍ تر کښيناستو وروسته ببرک کارمل بيا و ويل چې د شوروي اتحاد ځواکونو يو څو قطعې د پخوانی حکومت په بلنه افغانستان ته راغلي (يعنې د هغه چا په بلنه چې بلونکی يې و واژه - دا په خپله يوه معما ده). ببرک کارمل په يو ويډيويي کليپ کښې د وطن پالنې معيار د شوروي اتحاد سره دوستۍ ته په وفادارۍ کښې بولي او دا هغه څه وو چې د افغانستان په څير يوه عنعنوي، مذهبي او خپلواکۍ خوښوونکي ټولنه کښې د ولس او دولت تر منځ واټن لا زيات کړ.

د سرې جګړې سيالو ځواکونو هم د فرصت څخه د ګټې اخستلو په نيت د شوروي اتحاد په خلاف په حرکت راغلل او د جهادي تنظيمونو ملاتړ ته چې واګې يې د نورو په لاس کښې وې، را ودانګل. په هېواد د بهرني تيری پر وړاندې جګړې ډېر زور واخست. او د جنګي وسايلو او امکاناتو له نظره د کوټک او ټوپک د کچې څخه د سکاډ او سټينګر سطحې ته لوړ شو. هرې لورې ته د هر لحاظه ډېر جنګي تلفات اوختل خو د ولسي وګړو تلفات، تاوانونه او ستونزې تر بل هر چا ډېر او بې اندازې زياتيدل.

د بله پلوه د جګړې ختمولو او سولې رامنځته کولو لپاره په نړيواله کچه هلې ځلې پيل شوې او د ۱۹۸۷ کال په نيمايي کښې مسکو د افغانستان څخه د خپلو ځواکونو د ايستلو په اړه خپل سياسي تصميم و نيو، او د مذاکراتو پر فضا يو نوی وضعيت حاکم شو. د شوروي اتحاد د هغه وخت مشر چې د افغانستان جګړه يو «يو ويني څڅيدونکي زخم» ته ورته ښودلی وه، اعلان وکړ چې که چيرې د ژنيو خبرې اترې نتيجې ته و نه رسيږي، بيا هم دوی حاضر دی خپل ځواکونه په يو اړخيزه توګه له افغانستان څخه و باسي. د افغان رژيم په مشرتابه کښې هم يو بل بدلون راغی يعنې دا چې د ببرک پر ځای ډاکټر نجيب د دندې د ادامې لپاره غوره کړی شو. بالاخره، د ژنيو توافقات د يو لړ مراسمو په لړ کښې د افغانستان او پاکستان د بهرنيو چارو د وزيرانو له لورې، چې د افغانستان د مجاهدينو له خوا پکښې هيڅ ډول استازيتوب نه وه شوی، د ملګرو ملتونو د استازو په حضور چې د امريکا او شوروی دولتونو استازي (د قرارداد د تضمينونکو په توګه) هم حاضر وو د ۱۹۸۸ ميلادي کال د اپريل د مياشتې په ۱۴ نيټه د ژنيو تړون د ژنيو په ښار، د ملګرو ملتونو په اروپايي مقر کښې، لاسليک شو او روسانو په ۱۹۸۹ کال د فبرورۍ په مياشت کښې له افغانستان څخه پښې سپکې کړې.

## د ډاکټر نجيب الله د رژيم په وړاندې د شهنواز تني او ګلبدين حکمتيار ائتلافي کودتا ( د حوت ۱۶، ۱۳۶۸ کال)

د پرچميانو او خلقيانو تر منځ اختلافات د شهنواز تني د ناکامې کودتا وروسته نور هم پياوړی شو، چې په دې اړه د نبي عظيمي په کتاب «اردو در سه دهه اخير» کې معلومات ورکړل شوي دي، چې څنګه پرچميانو له خپلو خلقي سيالانو غچ واخيست. دا کودتا په خپل ذات کښې ډېره عجيبه کودتا وه. يو دا چې دا کودتا د يو ګوند د بيلو بيلو شاخو د غړو تر منځ د سياليو په نتيجه کښې را منځته شوه او بله دا چې کودتا کونکو ترکيب هيودوال، نړيوال او د اسلامي ګوند ځينې غړي چې د کودتا د جريان په اړه ورسره مشوره نه وه شوې هک پک کړل. خو کودتاچيانو ماته وخوړه. د دې کودتا په اړه بل په زړه پورې ټکي دا دی چې داخلي کودتاچيان او د رژيم مدافعين دواړه لورې زياتره د هېواد د لويې پکتيا سره تړاو درلود او بل دا چې ماران سره د يو بل ياران شول يعنې دا چې اسلامي ګوند د کودتا مرسته اعلان کړه.

## د بنين سيوان په طرحه کودتا (۱۳۷۱)

د ژنيو د تړون پر بنسټ د شوروي اتحاد پوځي ځواکونه له افغانستان څخه ووتل خو جګړه پای ته و نه رسيده. د جګړې د ختم لپاره د ملګرو ملتونو په منځګړتوب د يو متبادل او ټولو اړخونو ته د منلو وړ يو نظام رامنځته کولو لپاره خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړ چې بيا وروسته د بنين سيوان د طرحې په نامه ياده شوه. طرحه د يوه پنځه فقره ايز پلان په بڼه تياره شوه. طرحه دا وه چې د افغالنستان دولت به د چارو واګې د يو لنډ مهال لپاره يوه منځګړې ناپييلې ډلی ته سپاري او بيا به دا ډله د ټولو اړخونو تر منځ د ټاکنو تر سره کيدو لاره هواروي. خو د طرحې عملي کيدو د مخه په نوموړې طرحه د نجيب الله په دولت کښې شاملو ځينو کړيو او د مجاهدينو ځينو ډلو چې د نظار شورای يې مشري کوله او بيا د شمال ائتلاف په نامه ياديده. "د هېواد د شمال پورې اړوند يو ازبک جنرال محمد اعظم ما ته د يو ملاقات پر مهال و ويل چې په دغه جوړ جاړي کښې د شوروي اتحاد له خوا د هېواد د ولسمشرۍ د اوسني لمړی مرستيال ستر جنرال دوستم او د غرب له لورې د نظار شورا د مشر احمد شاه مسعود له لورې استازيتوب کيده" د جبل السراج په سيمه کښې د ټولو ذيدخلو او ذينفعو اړخونو په ګډون يوه شريکه غونډه وکړه چې هم د نجيب د دولت د سقوط سبب شو او هم يې د

بنین سیوان د طرحې د عملي کیدو نسخه په نطفه کښې خنثي کړه او د یو لړ چټکو اقداماتو په لړ کښې یې واک په خپل لاس کښې و نیو. (ډاکتر نجیب په کابل کښې د ملګرو ملتونو دفتر ته پناه یوړه خو کابل ښار ته د طالبانو د تحریک داخلیدو سره سم هغه په لمړۍ شپه د ملل متحد له دفتره را و ایستل شو او په مرموزه توګه د یوې قانوني محکمې د فیصلې پرته و ځړول شو او دا مهال ملګرو ملتو د هغه څخه حفاظت و نه کړ). د جهادي ګوندونو تر منځ د سیاسي ډیر او لږ واک پرسر داخلي جګړو پیل، د کابل د زرګونو ښاریانو د وژلو، بې کوره کیدلو او هم د کابل د ښار د ویجاړیو او ړنګیدو او ټولو شخصي او دولتي شتمنیو د لوټ او تالان سبب شو.

په ټول هیواد کښې ملک الطوایفي مسلطه شوه، هر ستر او کوچنی قوماندان د څو کلونو لپاره د یو سیمي خپل سری چارواکی جوړ شو او د افغانستان ټولي ملي او شخصي شتمنۍ لوټ او تالان شوې. د سیاسي شنونکو او زیاترو عامو وګړو په باور دا پیښې د جهاد برۍ نه بلکه یوه توطیه بلل کیږي. د جهاد فرضیت او تقدس پر خپل ځای او د مخلصو مجاهدینو قربانۍ د ستاینې وړ او نه هیردونکي دي خو د جهاد په نوم سوداګري، د وطن ړنګول او پلورل، د هیوادوالو وژل او سپکاوي هیڅکله او هیڅ چا لپاره د منلو او توجیه وړ نه دي. کوم شي چې په دې بهیرونو کښې زړه پورې دی هغه دا دی چې د تنې او د بنین سیوان په طرحه د کودتاګانو پر مهال دوه سرې ارتجاع سره لاسونه یو او د ولس کړاونه یې و غزول او د ولس په زخمونو یې د مرهم او پټۍ لګولو پرځای د هغوی په زخمونو مالګي و پاشلې.

**ارزونه:**

د دې مطالعې څخه دا پایلې تر لاسه کیږي.

لمړۍ) کودتا کیدای شي سپینه وي یا توره خو پایلې یې تورې، بدمرغه او د ربړونو او کړاونو ډکې، تباه کونکي او ویجاړونکی وي ځکه چې دا د یو څو اشخاصو او کړیو د ناروا واک او غوښتنو تر لاسه کولو او سر ته رسولو لپاره تر سره کیږي، نه د ولس د روا حقوقو تامین او سوکالۍ د ترلاسه کولو او خوندي کولو لپاره. ولس په ټول بهیر کښې ګډون نه لري. نو چې ولس پکښې ګډون نه لري د حقوقو تامین او سوکالي یې هم نه مطرح کیږي. کودتایي طرحې چې هر څه وې خو د دغو پورتینو یادو شوو پیښو ناوړه پایلې زمونږ د ولس د سترګو پر وړاندې پرتې دي. هغو ته تور، سپین، سور او یا بل رنګ ورکول اوس هم د ولس د تیر ایستلو لپاره مذبوحانه کوښښ ګڼل کیږي.

دوهم) د علمي ارزونې په رڼا کښې ګورو چې دې هرې پیښې په خپل بطن کښې خپل او د ټولنې ضد عناصر او غمیزې او ناورینونه زیږولې دي او هیڅ مثبته لاسته راوړنه یې نه درلوده.

دریم) څرګنده ده چې د دې ټولو فجایعو لوبغاړي د هیواد او ټولنې تر ټولو زیات آګاه او تعلیم یافته وګړي وو او د ژوندیو شواهدو پر بنسټ د کړکیچ اصلي عاملین هم همدوی بللی شو. په دغو کړکیچونو کښې د شاملو اشخاصو او کړیو له خوا د ځان څخه د دفاع په خاطر هر ډول ماجرا جویي او لجاجت او ځان د سپیناوي کوښښ نه زمونږ د ولس او هیواد ستونزې حلولای شي، نه پرې څوک له ولس او هیواد پر خلاف تر سره شوي جرمونه پټولای، نه پرې برآت اخستلای او نه د چا قناعت تر لاسه کولای شي، بلکه کولای شي زمونږ کړاونه او د لسیزو غمیزه لا اوږده او ژوره کړي. د لجاجت پر ځای د شهامت څخه کار اخستل، په خپلو ناوړه کړنو مردانه وار اعتراف او ولس ته مراجعه د نارینتوب، ځوانمردۍ او صداقت په معنا او د ټولو اړخونو تر منځ د ګډ کار او ملي موخو ته د رسیدو او هیواد ژغورنې لپاره لاره پرانیزي او د باور چاپیریال را منځته کوي. د ټولو افغانانو څخه د همداسې یو شهامت هیله کیږي.

د دغو بدمرغو او خاینانه بهیرونو او د هغوی د ناوړه پایلو څخه دفاع یو ناپوهې او پر هغه ټینګار یو ستره ملي جفا ده. البته د فجایعو رامنځته کونکو ته د لجاجت په صورت کښې ولسي عدالت اړین دی. د فجایعو د قربانیانو له پاره د سترې بدلې اولادونو لپاره یې د پوهې، آګاهۍ په رڼا کښې د سالم حرکت او مبارزې، روښانه او خپلواکه راتلونکي هیله لرم.

یادونه: په متن کښې د ماخذ د یادونې او تخنیکی ستونزو له امله د ماخذ د بیا یادونې څخه صرف نظر شوی دی.

پای